| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۳۵ | خامک گنډل | ٦۹ |
| ۳٦ | ماشیني صنایع | ۷۱ |
| ۳۷ | د نساجیو او اوبدلو فابریکه | ۷۳ |
| ۳۸ | د درملو جوړولو صنعت | ۷۵ |
| ۳۹ | د سمنټ جوړولو فابریکه | ۷۷ |
| ٤۰ | ثقیله او خفیفه صنایع | ۷۹ |
| ٤۱ | تور او رنګه فلزات | ۸۱ |
| ٤۲ | ترکاڼي او حجاري | ۸۳ |

| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ٤۳ | سوداګري | ۸۵ |
| ٤٤ | داخلي سوداګري | ۸۷ |
| ٤۵ | بهرنی سوداګري | ۸۹ |
| ٤٦ | زموږ د هېواد بندرونه | ۹۱ |
| ٤۷ | د ژوند چاپېریال | ۹۳ |
| ٤۸ | اقلیم | ۹۵ |
| ٤۹ | د افغانستان اقلیم | ۹۷ |
| ۵۰ | د برښنا تولید | ۹۹ |
| ۵۱ | کانونه او د افغانستان طبیعي زېرمې | ۱۰۱ |

# برښنا

**پوښتنه**

**ستاسو په آند، برښنا څه ګټې لري؟**





**برښنا هم د الله (ج) د لويو نعمتونو څخه ده، برښنا د اوبو، ګاز، نفت، باد او د هستوي انرژۍ څخه توليدېږي.**
**د برښنا قوه د سيم يا کيبل په واسطه نورو ځايونو ته انتقالېږي. د برښنا قوه د برښنا د محرکه قوې په واسطه په فلزي هادی تارونو کې حرکت کوي. په تارونو کې د برښنا جريان ته برښنا وېل کېږي.**
**برښنا ډېرې ګټې لري، د هغې له ګټو څخه يوه د رڼا د انرژۍ توليد او روښنايي ده. نن ورځ خلک په ورځني ژوندانه کې له برښنا څخه زياتي ګټې اخلي، د بېلګې په توګه: د کور په وسايلو کې، لکه: يخچال، کولر، راډيو، تلويزيون او داسې نور د برښنا له انرژۍ څخه کار اخېستل کېږي. همدارنګه برښنا په صنعت، سوداګرۍ، طبابت او داسې نورو کې هم ډېر اهميت لري.**
**د برښنا انرژي د خلکو لپاره د کارونو د آسانتيا او سهولت لامل دی. د برښنايي وسايلو ډولونه، لکه: جارو، دجامو مينځلو ماشين، د برښنا منقل او برښنايي داش د کورنيو کارونه آسانه کړي دي. نن ورځ د برښنا انرژي په ژوند کې دومره رول او اهميت لري چې پرته له هغې څخه ژوند کول ډېر ستونزمن په نظر راځي، که**

# ماشيني صنايع

**پوښتنه**

**ستاسو په فکر، زموږ په هېواد کې کوم ماشيني محصولات توليدېږي؟**






**ماشيني صنايع په لږ وخت کې ډېرو صنعتي اومو توکو ته په ښه ډول بدلون ورکوي اوهغه د خلکو د گټې اخيستنې لپاره برابروي. څرنگه چې په تېرو لوستونو کې راغلي دي چې زموږ هېواد يو کرنيز هېواد دی، نو ماشيني صنايعو هم زموږ په هېواد کې د اوبو او حرارتي برېښنا په توليد سره سم په مرکز او ولايتونو کې په فعاليت پيل کړی دی.**

**په (۱۳۲۵) لمريز کال کې زموږ هېواد کې د ۳۹۱ وړو او غټو فابريکو فعاليت کاوه او د هېوادوالو د اړتيا وړ محصولات يې توليدول.**

**اوس هغه فابريکې بيارغول شوي او يو شمېر نورو يې اوس نوی کار پيل کړی دی.**

که چېرته په هېواد کې د درملو جوړولو د صنعت د ودې او پرمختګ په برخه کې ډېره پاملرنه وشي، نو موږ به په راتلونکي کې په لوړ کیفیت سره د درملو جوړولو د لویو فابریکو خاوندان شو.

## فعالیت

په ډلو کې د درملو د ډولونو په اړه خبرې اترې وکړئ.

## ځواب ورکړئ

۱- درمل تعریف کړئ؟

۲- کوم کورني شرکتونه د ښه کیفیت درمل تولید وي نومونه یې واخلئ.

۳- خلک د څه لپاره د طبي بوټو او مېوو څخه کار اخلي؟

## کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې د څو طبي بوټو نومونه ولیکئ.

د سمنټو د جوړولو دویمه فابریکه د پروان په ولایت کې د جبل السراج فابریکه ده د دې سمنټ، لکه د غوري سمنټو په څېر ښه کیفیت لري. د جبل السراج فابریکه په ۱۳۲۷ هـ.ل. کال په کار پیل وکړ. اوس د دې فابریکې کلني تولیدات شاوخوا د ۲۵ زره ټنو څخه پورته دي.

همدارنګه د خلکو د زیاتې اړتیا په خاطر په هرات او سمنګان کې هم د سمنټو فابریکې د جوړولو په حال کې دي. چې د دې نویو فابریکو په جوړولو سره به د سمنټو تولیدات نورهم زیات شي او زموږ د هېواد د اقتصادي ودې لامل به شي.

## فعالیت

په ډلو کې د سمنټو څخه د ګټې اخستنې په اړه خبرې وکړئ.

## ځواب ورکړئ

۱- د غوري سمنټو فاریکه زموږ د هېواد په کوم ولایت کې موقعیت لري؟

۲- د غوري سمنټو فاریکه د کوم هېواد په مرسته جوړه شوې ده؟

۳- زموږ په هېواد کې د سمنټو د جوړولو څو فاربریکې شته دي؟

## کورنۍ دنده

له سمنټو څخه د ګټې اخیستنې په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

په کار اچولو او داسې نورو برخو کې گټه اخلي، تردې مهاله زموږ په هېواد کې د برښنا ډېر بندونه پرسیندونو  ودان شوي دي چې مهم بندونه يې، د ماهيپر، نغلو، سروبي، درونټې، کجکې، جبل سراج ، پلخمري او د سلما بندونه دي چې د دې بندونو  برښنا د هوايي او د ځمکې لاندې لينونو او کېبلونو په واسطه ښارونو او فابريکو ته لېږدول شوې ده.

زموږ په هېواد کې سربېره پر دې چې د اوبو له برښنا څخه کار اخلي، د لمر او باد له انرژۍ څخه هم برښنا ترلاسه کوي. حرارتي برښنا د طبيعي غازونو، نفتو او د ډبرو سکرو له انرژي څخه توليدوي. نن ورځ په نړۍ کې له هسته يي انرژۍ څخه هم  زياته برښنا توليد وي.

## فعاليت

په ډلو کې د برښنا د توليد په اړه خبرې وکړئ.

## ځواب ورکړئ

۱- خلکو  په پخوا وختونو کې د اوبو له قوې څخه څرنگه کار اخيسته؟

۲- له اوبو څخه ځنگه کار اخيستلای شو؟

۳- د سيند له اوبو څخه برښنا څرنگه ترلاسه کېږي؟

## کورنۍ دنده

د  خپل هېواد د برښنا د بندونو نومونه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

